مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی

۱۰ / ۱۲ / ۲۰۲۰

# د ملالي میوندی په ویر کې

دا قاتل ځوک دی او مورې ولې وژني
هم مو ښاغلې، هم اغلې وژني
په انتخاب د مرګ کې نه تېروځي
په موره ټولو کې منلې وژني
داسې خیرن دښمن به بل چیرې وي
چې پښتنې په پټ سپېڅلې وژني
کارغان ټول ګرځي په بنو کې ازاد
ښکاري زمورې د بڼ بلبلې وژني
په نوم رڼا پر افغان نه لوروي
تورتم کې خوښ دي، ډېوې بلې وژني
زه د قاتل ضمیر وجدان ته هیښ یم
چې پرېښتې تر ښکلا ښکلې وژني
که د جهاد پریکړه منطق داسې وي
چې مو نجونې نومېرلې وژني
بیا دې خدای مل د هغه دین ایین شي
چې په خپل لاس عقیدې خپلې وژني
دښمن مو ښځې او بنسټ ته ایښې
چې ملالی غوندې اتلې وژني
افغان پښتون ته خپل دښمن مالوم دی
په لر او بر کې چې روهیلې وژني



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مورې سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ